# زما عقيده

**ليکوال**

**ابوالرفاعة مفتي محمود شاکر**

**د منبع العلوم جامعې رئيس**

**کمپوزر: قاري مولوي نظام الدين محمدي**

**د منبع العلوم جامعې مدير**

**بسم الله الرحمن الرحيم**

# کلمه طيبه

## لااله الا الله محمد رسول الله

ژباړه:له الله تعالی پرته بل د عبادت وړ معبود نسته ، محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی .

د کلمي صحیح تلفظ: ✓ لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدُ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

د کلمي غلط تلفظ:

- ✖ لا ایلاء ایل الله مهمد رسول الله.
- ✖ لا الا و الا الله مخمد رسولَ الله.
- ✖ لااله هل الله موحمد رسول الله.
- ✖ لا الاخ ایل الله محمد رسول الله.
- ✖ لااله عل الله مامد رسول الله.

**قدرمن استاد! په زده کونکو کلمه طيبه لفظاً او معناً حفظ کړه.**

# کلمه شهادت

## اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمداً عبده ورسوله.

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل ذات د عبادت وړ نسته، هغه یو دی، سیال اوشریک نه لري اودا شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم یې بنده او رسول دی.

د شهادت کلمې صحیح تلفظ: ✓

اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له و اشهد ان محمداً عبده ورسوله.

د شهادت کلمې غلط تلفظ: ✖

- ✖ اشهد عن لااله الا الله وحده لاشریک له واشهد عن مهمداً عبده ورسوله.
- ✖ اشهد ون لااله الا الله وهده لاشریک له واشهد ون محمداً عبده ورسوله.
- ✖ اشأد لا الأ ایل الله وعده لاشریک له واشأد محمداً عبده ورسوله.
- ✖ اشد ونَّ لااله الا الله واده لاشریک له واشد ونَّ محمداً ابده ورسوله.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د شهادت کلمه لفظاً اومعناً حفظ کړه.**

# ایمان مجمل

## امنت بالله کما هو بأسمائه وصفاته و قبلت جمیع احکامه ، اقرار باللسان و تصدیق بالقلب.

ژباړه: ایمان مې راوړی، باور اویقین مې کړی پر الله باندې لکه څرنګه چې الله تعالی هغسې دی اود هغه په نومونو او صفتونو باندې مې ایمان راوړی او ماېې ټول حکمونه منلې دي، زه په ژبه اقرار کوم او په زړه باور کوم.

د ایمان مجمل صحیح تلفظ: ✓
امنت بالله کما هو بأسمائه وصفاته و قبلت جمیع احکامه ، وارکانه اقرار باللسان و تصدیق بالقلب.
د ایمان مجمل غلط تلفظ: ✖

✖ امنتو بالله کماوه باسمائه و صفاته و کبلت جمیح اهکامه و ارکانِه، اکرار باللسان وتصدیقن بیلقلب.

✖ امنت بالله کماووه باسمایه و صفاته و کبلت جمیع اکامه وارکانُه اقرار باللسان و تسدیکن بالکلب.

✖ هامنت بالله کماووهم باسمائه وسیفاته و قبلت جمیهه احکامه وهرکانه اقرارٌ باللسان تاسدیق بالقلب.

**قدرمن استاد! په زده کونکو ایمان مجمل لفظاً او معناً حفظ کړه.**

# ایمان مفصل

## امنت بالله وملائکته و کتبه ورسله والیوم الآخر والقدر خیره وشرِّه من الله تعالی والبعث بعد الموت.

ژباړه: ماایمان راوړی پر الله باندی او پر ملائکو یې او پر کتابونو یې او د هغه پر رسولانو او دقیامت پر ورځې او پدې چې د ښه اوبد تقدیر د الله تعالی له لوري دی اوله مرګ وروسته پر ژوندي کېدو باندي.

د ایمان مفصل صحیح تلفظ: ✓

امنت بالله وملائکته و کتبه ورسله والیوم الآخر والقدر خیره وشرِّه من الله تعالی والبعث بعد الموت.

د ایمان مفصل غلط تلفظ: ✖

✖ امنت بالله وملائکتي و کتبي ورسولي والیوم الآخیر والکدر خیري وشرِّي من الله تهالی والبأس باد الموت.

✖ هامنت بالله بیلاه وملایکته وکتوبه ورسولیه والیوم الهاخر والقدر خیره وشره من الله تالی والبحث بعد الموت.

✖ عامنت بالله وروسوله وکوتبهي والیوم الاخیر والکدر خیره وشره من الله تعالی والبعث بهد الموت.

**قدرمن استاد! په زده کونکو ایمان مفصل لفظاً او معناً حفظ کړه.**

## زما عقیده داده چې:

. الله تعالی یودی.

. یوازي هغه د عبادت اوبندګۍ وړدی، له هغه پرته د بندګۍ وړ بل هیڅوک نسته.

. هغه سیال اومثل نلري.

. له هر څه خبردی، هیڅ شی ورڅخه پټ ندی.

. د پوره طاقت او قدرت خاوند دی.

. ځمکه ، اسمان، سپوږمۍ ، لمر، ستوري، ملائکې، انسانان، پیریان اولنډه داچې ټول جهان یوازي هغه پیداکړی اوهغه یې مالک دی.

. مرګ اوژوند د هغه له لوري دی، یعني د ټول مخلوق ژوند اومرګ د هغه په واک کې دی.

. هغه ټول مخلوق ته روزي ورکوي.

. خوراک، څښاک او خوب نه کوي.

. تل و او تل تر تله به وي.

. هغه هیچا پیداکړی ندی.

. نه يې پلار شته، نه زوی، نه لور، نه ښځه او نه هم له چاسره دغه ډول خپلوي لري له دارنګه ټولو خپلوليو څخه پاک دی.

. هر څه ده ته محتاج دي، خودی هیچاته محتاج ندی او هيڅ شي ته اړتیا نلري.

. بې مثله دی، هيڅ يو شی يې په څېر ندی.

. له ټولو عیبونو پاک دی.

. د مخلوق په څېر لاس، پښې، پوزه اوغوږونه نلري.

. د انسان ، ملائکو ، پیریانو اوياد بل جسم په شان صورت، شکل او بدن نلري.

. الله تعالی یودی نه په ذات، نه په صفاتو، نه په افعالو، نه په کارونو، نه په عباداتو او نه په کمالاتو کې شریک لري.

. الله تعالی داسي ذات دی چې ازلي دی د همیشه لپاره وو او وي به، هر شی ده ته محتاج دی، خودی هيڅ شي ته ندی محتاج.

. دغه ذات چې ټول موجودات يې له هيڅ څخه پیداکړل، ژوندی دی ، عالم دی ، قدرت لرونکی دی، قدیم دی، اوري، ويني، ګوري، خبرې کوي، اختیار او اراده لري او په ټولو کمالاتو او ښو صفتونو سره ستایل سوی دی.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د الله تعالی په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

## زما عقیده داده چې:

. د ملائکو وجود حق دی.

. ملائکې د الله تعالی یو جلا مخلوق دی.

. له نوره پیداسوي او زموږ له سترګو پنادي.

. نه نارینه او نه هم ښځینه دي، نه د الله تعالی د حکم نافرماني اونه ګناه کوي.

. د اوبو، ډوډۍ او خوراک څخه خلاص دي.

. خوب او ستړیا نلري، ولادت ، نکاح او زېـــږیدل په دوی کې نسته.

. په کومو کارونو چې الله تعالی مقرري کړي دي په هغو بوختي دي.

. په رنګ رنګ شکلونو او صورتونو کیدلای سي.

. شمیر یې له الله تعالی پرته بل هیڅ چاته معلوم ندی.

. څلور ملائکې مشهوري او مقربي دي:

۱ـ حضرت جبرائیل علیه السلام د الله تعالی کتابونه، احکام او پیغامونه به یې پیغمبرانو (علیهم السلام) ته راوړل.

۲ـ حضرت اسرافیل علیه السلام د قیامت شپیلۍ به پو کوي.

۳ـ حضرت میکائیل علیه السلام د باران د اورښت او مخلوق ته د روزۍ رسولو په کارو مقرردی.

۴ـ حضرت عزرائیل علیه السلام له مخلوق څخه د روح په اخیستلو مقرر دی.

- ملائکې مرګ لري او پسله مرګه ژوند لري.
- په جنت او دوږخ کې بیله ثواب اوعذاب ملائکې وجود لري.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د ملائکو په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

# زما عقیده داده چې:

**.** د الله تعالی له طرفه چې کوم کتابونه پر پیغمبرانو نازل سوي دي، حق دي دالله تعالی له طرفه دي.

**.** غټو ته یې کتابونه وایې او کوچنیو ته یې صحیفې وایې.

**.** څلور کتابونه مشهور دي:

۱ـ تورات پر موسی علیه السلام نازل سوی دی.

۲ـ زبور پر داؤد علیه السلام نازل سوی دی.

۳ـ انجیل پر عیسی علیه السلام نا زل سوی دی.

۴ـ قرآنکریم پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل سوی دی.

**.** ټولي سل صحیفې دي، لس صحیفې پر حضرت موسی علیه السلام له تورات څخه تر مخه نازلې سوي،پنځوس صحیفې پر حضرت شیث علیه السلام ، دیرش صحیفې پر حضرت اخنوخ (ادریس) علیه السلام او لس صحیفې پر حضرت ابراهیم علیه السلام نازلي دي.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د اسماني کتابونو په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

## زما عقيده داده چې:

. زما ایمان دی پرټولو رسولانو، پیغمبرانو او انبیاوو چې الله تعالی خپـلو بند ګانو ته د حکمونو د رسولو لپاره ټاکلي او رالیږلي دي، هغوی رښتیا ویونکي دي، درواغ هیڅکله نه وایي. ګناه نه کوي، د الله تعالی په امر سره معجزې ښکاره کوي، پیغامونه یې په پوره ډول مخلوق ته رسوي، کموالی او زیاتوالی پکښې نه کوي اونه هم هیڅ یو پیغام پټوي.

. دنیاته ډېر رسولان او نبیان راغلي دي، خود هغو پوره شمیر یوازې الله تعالی ته معلوم دی، په روایاتو کې د رسولانو شمیر دري سوه او دیارلس ښودل سوی او د ټولو پیغمبرانو شمېر یولک او څلرویشت زره زیات او کم ښودل شوی خو موږ او تاسو باید داعقیده ولرو چې د الله تعالی ټول رسولان هر څومره چې وي حق او رېښتني دي.

. ترټولو لومړی پیغمبر حضرت ادم علیه السلام دی او تر ټولو وروستی او آخري پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی.

. نبوت او پیغمبري پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پای ته ورسید، لده مبارک وروسته چې څوک د پیغمبرۍ دعوه کوي هغه درواغجن دی.

. زموږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ټولو انبیاوو او رسولانو کې غوره اولوی دی، دی که څه هم د الله تعالی بنده او اطاعت کونکی دی، حو له الله تعالی وروسته په مخلوق کې تر هر چا د ده مبارک مرتبه لوړه ده.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د پیغمبرانو په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

# زما عقیده داده چې:

. قیامت ورځ حق ده ، دا هغه ورځ ده چې ټول انسانان او حیوانات مړه کېږي، ټوله دنیا به له منځه ځي او هر شی به زره زره اوله منځه لاړ شي.

. حضرت اسرافیل علیه السلام به شپیلۍ پوکړي، د شپیلۍ آواز به یې دومره ویرووونکی او سخت وي چې له هیبت به یې ټول خلک مړه او هر شی به زره زره او فناشي.

. قیامت راتلونکی دی خو ټاکلی وخت یې له الله تعالی پرته هیچاته معلوم ندی، البته دومره معلوم دی چې د جمعې په ورځ د محرم په لسمه نېټه به وي.

. د قیامت ځیني نښانۍ نبي علیه السلام پدې ډول ښودلي:

۱ـ کله چې په دنیا کې ګناوي زیاتي شي.

۲ـ خلک د خپل مور او پلار نا فرمانه شي او پر هغو سختي پیل کړي.

۳ـ په امانت کې خیانت پیل سي.

۴ـ وروستي خلک، مخکینیو بزرګانوته بد ویل پیل کړي.

۵ـ بي علمه او کم علمه خلک مشران سي.

۶ـ شپانه او د ټیټي درجې خلک لوړ لوړ عمارتونه جوړول پیل کړي.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د قیامت په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

## زما عقیده داده چې:

**.** له مرګه وروسته بیا ژوندي کیدل حق دی.

**.** کله چې د قیامت په ورځ ټول شیان له منځه لاړشي، اسرافیل علیه السلام به دویمه شپیلۍ پو کړي چې پدې سره به بیرته ټول شیان او انسانان راژوندي شي.

**.** د حشر په میدان کې به ټول مخلوق د الله تعالی حضورته ودرېږي، حساب اخیستل کیږي، دښو اوبدو کارو بدله به ورکول کیږي، سوال او جواب به کیږي.( یا الله فضل او کرم راسره وکړه)

**قدرمن استاد! په زده کونکو د بیا ژوندي کیدلو په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

# زما عقیده داده چې:

. تقدیر حق دی ، د هرې خبرې او هر شي د ښه او بد اندازه په ازل کې د الله تعالی په علم کې ټاکل شوې.

. الله تعالی چې هر شی په کومه اندازه ټاکلی، په همغه اندازه به هغه شی پیداکیږي، که ښه دی که بد، ټول د جانبه د خدای پاک دي.

**قدرمن استاد! په زده کونکو د تقدیر په هکله مذکوره عقیده حفظ کړه.**

## زما عقیده داده چې :

- . د قبر عذاب حق دی د کافرانو او بعضي ګناهکارانومؤمنانولپاره .
- . د منکر او نکیر پوښتنه حق ده.
- . په قیامت کې د عملونو تلل حق دی.
- . سوال او جواب حق دی.
- . حوض کوثر حق دی.
- . پل صراط حق دی.
- . جنت حق دی.
- . جهنم حق دی.
- . دنبي علیه الصلوة والسلام شفاعت حق دی.
- . د عملنامې ورکول حق دی.
- . معراج حق دی.
- . په قیامت کې د الله تعالی لیدل حق دی.
- . صحابه کرام ټول عادلین دي، په بدو یې نه یادوو.
- . پرته له پیغمبرانو ترټولو خلکو بهتره ابوبکر صدیق رضي الله عنه دی، بیا عمر رضي الله عنه دی، بیا عثمان رضي الله عنه دی او بیا حضرت علي رضي الله عنه دی.

. په ګناه سړی نه کافر کیږي، تر څو چې يې ځان ته حلال ونه ګڼي.

. کرامت د اولیاوو حق دی.

. د دجال راوتل  حق دی.

. د یأجوج او مأجوج راوتل حق دی.

. له مغرب څخه د لمر راختل حق دی.

. د دابة الارض راوتل حق دی.

. خلاصه داچې زما په الله تعالی ایمان دی او په هغه څه چې د الله تعالی څخه راغلي، په هغه ډول چې د الله تعالی مرادوي زما ایمان دی او زما د الله تعالی پر رسول ایمان دی او په هغه څه چې رسول صلی الله علیه وسلم  د الله تعالی څخه راوړي په هغه ډول چې د الله تعالی مراد وي زما ایمان دی.

. د الله تعالی بندګي کوم، په کومو کارونو چې يې امر کړی یم عمل کوم، له کومو کارونو چې يې منع کړی یم ځان تري ساتم او دومره علم به حاصلوم چې حلال اوحرام و پیژنم او د رب العالمین رضا پرې حاصله کړم.

**قدرمن استاد! په زده کونکو مذکوره ټول عقائد حفظ کړه.**

تمت بالخیر والحمد لله رب العالمین

۱۴۴۶/۸/۱۲ هـ ق